# قبر

## څنګه روښانه کیږي؟

07-March-2023



اجتماعِ شبِ برات کا بیان

(For Islamic Brothers)

د شبِ براءَت د اجتماع بیان (15 شعبان، 1444 ھ/ 07 مارچ، 2023ء)

# قبر څنګه روښانه کېږي؟

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... قبرونه آخرت رایادوي
- ...قبر د جنّت باغ یا د دوزخ کنده
- ... د صدِّیق او عمر (رَضِیَ اللہُ عَنۡہُما) وسیله پکار راغله
- ... صحابهٔ کرامو به ماشومانو ته د قبر سوالونه ښودل
- ... د تلاوت کوونکي قبر فراخه کولے شي

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنټر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

علّامه قُرطبي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه ليکي: يوه ورځ يوه زنانه د مشهور وَلِـيُّ الله حضرت امام حَسَن بَصري رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه په خدمت کښې حاضره شوله او عرض ئې اوكړو: زما پيغله لور وفات شوې ده، څه طريقه راته ارشاد كړئ چې زه هغه په خوب كښې اووينم. هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه هغې ته عمل اوښودلو. هغې خپله وفات شوې لور په خوب كښې خو اوليدله خو په دې حال كښې چې **د هغې په بدن باندې د تاركولو جامې، په غاړه كښې زنځير او په ښپو كښې بيړئ وې!** دا وحشت ناكه نظاره چې ئې اوليدله نو هغه زنانه اوويريده! هغې په بَله ورځ دغه خوب حضرت امام حَسَن بَصري رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه ته بيان كړو، خوب ئې چې واوريدلو نو هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه ډير غمژن شول. څه موده پس حضرت امام حَسَن بَصري رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه په خوب كښې يوه جينئ اوليدله، كومه چې په **جنَّت** كښې په يو تخت باندې ناسته وه او **تاج** ئې په سر وو. هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه چې ئې اوليدلو نو اوئې وئيل: زه د هغې زنانه لور يم، كومې چې تاسو ته زما حال بيان كړے وو. هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه اوفرمائيل: د هغې د وئيلو مطابق خو ته په عذاب كښې وې، آخِر دا انقلاب څنګه راغے؟ وفات شوې [جينئ] اووئيل: د مقبرې په خوا يو ګس تير شو او هغه په مصطفٰے جانِ رحمت،

شمعِ بزمِ هدايت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دُرُود اولیږو، د هغه د دُرُود شریف لوستلو په برکت سره الله پاک زمونږ د 560 قبرونو والؤ نه عذاب اوچت کړو.[1]

| بَسُوئے کُوئے مدینہ بڑھو درود پڑھو! | جو تم کو چاہیئے جنّت پڑھو درود پڑھو! |
|---|---|

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! اوليدلو تاسو د درودِ پاک برکت! اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږه خوږ الله پاک د خپل محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ډير محبت فرمائي، دې د پاره خو هغه په درودِ پاک کښې داسې برکتونه ايښودي دي د پاره د دې چې بندګان درودِ پاک لولي، د محبوبِ رَبّ، سلطانِ عرب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکر کيږي او د بندګانو د بخښنې ذريعه هم جوړيږي. کاش! چې مونږه هم د زيات درودِ پاک لوستلو عادت جوړ کړو. په شَعْبَانُ الْمُعَظَّم کښې خو خاص طور ډير زيات درودِ پاک لوستل پکار دي چې شَعْبَانُ الْمُعَظَّم د درودِ پاک مياشت ده.

شيخ شهابُ الدِّين حجازي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ليکي: بيشکه شَعْبَانُ الْمُعَظَّم د درود شريف لوستلو مياشت ده چې دا د درود آيت يعنې د سيپاره 22، سُورَۃُ اَحزَاب مشهور آيت مبارک

| اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓىِٕكَتَهٗ یُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِیِّؕ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا(۵۶) (پاره: 22، سورۀ آحزاب: 56) | [مفهوم]ترجَمۂ کنزُ الایمان: بے شکه الله او د هغه فرښتې درود ليږي په هغه غيب ښودونکي (نبي) باندې، اے ايمان والؤ! تاسو هم په هغه باندې درود او ډير سلام اوليږئ. |
|---|---|

[1]... التذکرۃ، جز:1، صفحہ:68 ملتقطًا۔

دا آیت هم په شَعْبَانُ الْمُعَظَّم کښې نازل شو.[1]

تیری اِک اِک ادا پر اے پیارے!
وہ سلامت رہا قیامت میں
سَو درودیں فِدا، ہزار سلام
پڑھ لئے جس نے دِل سے چار سلام[2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو باندې دے.[3]

اے عاشقانِ رَسُول! ښه نیت بنده جنّت ته رَسَوي، د بیان اوریدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِیّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ عِلمِ دِین به زده کووم ❁ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به بااَدبه کښېنم ❁ نصیحت به حاصلووم ❁ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاک نوم چې واورم نو درودِ پاک به لولم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

اے عاشقانِ رَسُول! ❁ نن شَبِ براءَت یعني د خلاصي شپه ده ❁ نن خیرونو والا، برکتونو والا، عظمتونو والا شپه ده ❁ د رحمتونو باران دے ❁ نن د بخښنې او مغفرت شپه ده ❁ په دې شپه رَبِّ کائنات په خپلو بندګانو باندې ښه ډېر رحمتونه نازلوي ❁ نن د

---

[1]... مَوَاہِبُ اللَّدُنیہ، جلد : 2، صفحہ:506 ـ
[2]... ذوقِ نعت، صفحہ:170 و171ـ
[3]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1 ـ

دُعاګانو د قبلیدو شپه ده ❁ نن د رزق د تقسیمیدو شپه ده.

آئی شَبِ براءَت، یہ ہے برکتوں کی رات
لطف و کرم کی رات ہے، یہ رحمتوں کی رات

بارانِ فضل ہوتا ہے اس شب کو ہر گھڑی
خوش بخت ہے جسے ملی یہ عظمتوں کی رات

جو چاہتے ہو، تم کو کرے گا خدا عطا
اس کی عنایتوں کی ہے یہ نعمتوں کی رات

غم کا علاج آج کی شب دستیاب ہے
یہ جاں فزاہیں ساعتیں، یہ فرحتوں کی رات

کرلو مرض کے واسطے رب سے دُعا ابھی
یہ ہے شفا کی رات، یہ ہے راحتوں کی رات

دامن بڑھاؤ مانگ لو خیراتِ مغفرت
اے عاصیو! ہے جلوہ نما رافتوں کی رات

راضی کرو تمام جو ناراض تم سے ہیں
صلح و صفا کی رات ہے، یہ قُربتوں کی رات

## په لکونو ګنهګاران بخښلے کیږي

د ټولو مسلمانانو خوږه مور جانه **حضرت عائشه صِدِّیقه طَیِّبَه طاهره** رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا فرمائي: ما یوه شپه سرورِ کائنات، شاهِ موجودات صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خپله بستره باندې اونه لیدلو، چې اومې لټولو نو معلومه شوه چې هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بقیعِ پاک کښې دي، خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: بے شکه الله پاک د شعبان په 15 شپه د دُنیا په آسمان باندې تجلي فرمائي، بس په دغه شپه د بَنُو کلب د قبیلې د چیلو د **ویښتو نه هم زیات ګنهګاران بخښي.**[1] بَنُو کلب د عربو یوه قبیله وه، په کتابونو کښې لیکلي دي: چې دې خلقو به ډیرې زیاتې چیلۍ ساتلې.[2]

سُبۡحٰنَ اللہ! د یوې چیلۍ په بدن چې څومره ویښته وي، څوک هغه شمیرلے شي؟ معلومه

---

[1]... ترمذی، کتاب الصوم، صفحہ:207، حدیث:739 ملتقطاً۔

[2]... مرقاۃ المفاتیح، کتاب الصلوٰۃ، جلد:3، صفحہ:339، زیرِ حدیث:1299۔

شوه: په نن‌ئ شپه د زرګونو، لکونو بلکه د کروړونو خلقو بخښنه کيږي.

| | |
|---|---|
| براءَت دے عذابِ قبر سے، نارِ جہنّم سے | مہِ شعبان کے صدقے میں کر فضل و کرم مولیٰ[1] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## قبرونه آخرت رايادوي

**اے عاشقانِ رَسُول!** مونږه واوريدل! سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شبِ براءَت بقيع پاک شريف ته تشريف يوړلو. **بقيع شريف د مديني منورې مشهوره مقبره ده.** د دې روايت نه معلومه شوه: چې په نن‌ئ شپه مقبرې ته تلل هم د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **مبارکه ادا ده.** د ډيرو کلونو نه د مسلمانانو معمول دے چې په شبِ براءَت مقبرې ته ځي او د خپلو خپلوانو او مړه شوؤ مسلمانانو د پاره د بخښنې دُعاګانے کوي. الله پاک دې مونږ له هم توفيق راکړي. په شبِ براءَت کښې يا د دې نه علاوه هم مقبرې ته د تللو ډيرې فائدے دي. زمونږه خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **قبرونو ته ګورئ! بے شکه قبرونه ته کتل د دُنيا نه بے رغبته کوي او آخرت رايادوي.**[2]

| | |
|---|---|
| دِلا غافِل نہ ہو یک دَم یہ دُنیا چھوڑ جانا ہے | بغیچے چھوڑ کر خالی زمیں اندر سمانا ہے |
| تُو اپنی موت کو مت بھول کر سامان چلنے کا | زمیں کی خاک پر سونا ہے، اینٹوں کا سرہانا ہے |
| عزیزا یاد کر جس دن کہ عزرائیل آئیں گے | نہ جاوے کوئی تیرے سنگ اکیلا تُو نے جانا ہے |
| غُلام اِک دَم نہ کر غفلت حیاتی پر نہ ہو غُرّہ | خدا کی یاد کر ہر دَم کہ جس نے کام آنا ہے |

[1]... وسائلِ بخشش، صفحہ:97 و98۔

[2]... ابن ماجہ، کتاب الجنائز، باب: ماجاء فی زیارۃ القبور، صفحہ:252، حدیث:1571۔

## د سبق نه ډک د قرآن 7 آيتونه

په سيپاره 30، سورۀ عَبَس، آيت 17 نه 23 کښې الله پاک فرمائي:

قُتِلَ الْاِنْسَانُ مَاۤ اَكْفَرَهٗ ﴿۱۷﴾ مِنْ اَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ ﴿۱۸﴾ مِنْ نُّطْفَةٍ ؕ خَلَقَهٗ فَقَدَّرَهٗ ﴿۱۹﴾ ثُمَّ السَّبِيْلَ يَسَّرَهٗ ﴿۲۰﴾ ثُمَّ اَمَاتَهٗ فَاَقْبَرَهٗ ﴿۲۱﴾ ثُمَّ اِذَا شَآءَ اَنْشَرَهٗ ﴿۲۲﴾ كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَاۤ اَمَرَهٗ ﴿۲۳﴾

(پاره:30، سورۀ عبس:17 تا 23)

[مفهوم]ترجَمۀ کنزُ الایمان: انسان دې قتل کړے شي څه نا شکرا دے هغه د څه څيز نه جوړ کړے شو، د اوبو د څاڅکي نه ئې پيدا کړو بيا ئې هغه په قسما قسم اندازو باندې اوساتلو، بيا ئې هغه ته لاره آسانه کړله بيا ئې مړ کړو بيا ئې په قبر کښې کيښودو، بيا چې کله اوغواړي راپورته به ئې کړي داسې نه ده هغه تر اوسه پورې پوره نکړو د کومې چې ورته حکم شوے وو.

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د قرآنِ کريم په دې 7 مختصر آيتونو مبارکو کښې ځومره په ښکلي طريقے سره زمونږه انداز، زمونږه احوال او زمونږه د ژوند حقيقت بيان کړے شوے دے.

نن زمونږ په مَتو کښې طاقت دے، مونږه صحت مند، مضبوط، عقل مند يو، زمونږ سره عهدے هم دي، منصب هم شته، څوک انجنيئر دے، څوک ډاکټر دے، څوک سيټهه دے، څوک امير زاده، څوک پوليس والا دے، څوک فوځي، غرض مونږه ډير څه يو خو زمونږه ابتدا څه ده؟ د اوبو يو څاڅکے. الله پاک زمونږ د پاره زمکه فرش جوړ کړو، د آسمان چهت ئې جوړ کړو، زمونږه دُنيا ته د راتلو نه مخکښې ئې زمونږ د پاره په لکونه نعمتونه پيدا کړل، بيا ئې د اوبو د يو څاڅکي نه ژوندے انسان جوړ کړو او دې دُنيا ته ئې رااوليږو. دا زمونږه حقيقت دے، دا زمونږه اصل دے.

اوس به آيا مونږه دلته هميشه اوسيږو؟ نۀ. الله پاک فرمائي:

ثُمَّ اَمَاتَهٗ فَاَقْبَرَهٗ ﴿۲۱﴾
(پاره:30، سورة عبس:21)

[مفهوم]ترجَمۂ کنزُ الايمان: بيا ئې مړ کړو بيا ئې په قبر کښې کېښودو.

ډير زر به مَلَكُ المَوت عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړي، رُوح به د بدن نه ويستلے شي او زمونږه مينه وال به مونږه د تيارو نه ډك قبر کښې کيږدي او بيرته به رانه لاړ شي.

بيا...!! آيا دلته قصه ختمه شوه؟ نۀ...!!

ثُمَّ اِذَا شَآءَ اَنْشَرَهٗ ﴿۲۲﴾
(پاره:30، سورة عبس:22)

[مفهوم]ترجَمۂ کنزُ الايمان: بيا چې کله اوغواړي راپورته به ئې کړي

هغه وخت به راشي، قبرونه به برسيره کيږي، مړي به بيا ژوندي کيږي، د الله پاک په بارګاه کښې به حاضريږي، د عملونو حساب به اخستے شي.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا حقيقت دے، مرګ زمونږ په سر باندې دے، د قبر وحشت ناکه کنده او د قيامت د ويرې نه ډك ميدان زمونږه مخے ته دے، حضرت ملكُ المَوت عَلَيْهِ السَّلَام په دې انتظار کښې دے چې کله به د بنده وخت پوره کيږي او زه به ئې رُوح به قبض کووم، حضرت اسرافيل عَلَيْهِ السَّلَام شپيلئ په خُله کښې نيولې ده او انتظار کوي چې کله به حکم کيږي او زه به په شپيلئ کښې پوکے کووم او قيامت به راولم. اوس په دې حالت کښې زمونږه حال څه دے؟ زمونږه د ژوند انداز، زمونږ طور طريقے، زمونږه چال چلن څنګه دے؟ الله پاک فرمائي:

كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ اَمَرَهٗ ﴿۲۳﴾
(پاره:30، سورة عبس: 23)

[مفهوم]ترجَمۂ کنزُ الايمان: داسې نه ده هغه تر اوسه پورې پوره نکړو د کومې چې ورته حکم شوے وو.

مونږ ته د 5 لمُونځونو حکم شوے دے، زمونږ نه پوره نه ادا کيږي، په 12 مياشتو کښې صرف يوه مياشت روژې فرض شوے، مونږه ئې نه شو نيولے، په 100 روپو کښې صرف دوه نيمې روپئ هغه هم د شرطونو پوره کيدو په شکل کښې زکوٰة فرض کړے شو، مونږ ئې نه شو ورکولے، د شرطونو پوره کيدو په شکل کښې په ټول ژوند کښې صرف يو ځل د حج حکم شوے دے، مونږه ئې نشو کولے، د قرآن تلاوت، زيات درودِ پاک، ذِکر و اذکار، د مور وپلار د فرمانبردارئ، د صله رحمئ ، د خپلو خپلوانو، ګاؤنډيانو سره نيک سلوک، د سترګو حفاظت، د ژبې، لاسونو، د زړه حفاظت، په ناپ تول کښې د ايمان دارئ، د حلالے ګټې، د حلال خوړلو غرض سوؤنه حکمونه راکړے شوي دي، د ژوند تيرولو طريقه ښودلے شوې ده، د ژوند د هرې يوے مرحلے په باره کښې لار ښودلے شوې ده خو زمونږه حال...!! مونږه حکمونه پوره نه کړل، مرګ په سر باندې ولاړ دے، مونږه په غفلت کښې يو، د قبر خطرناکه کنده مخامخ ده، مونږه دسيدها کيدو نوم نه اخلو، د قيامت په ورځ به را پورته کړے شو خو مونږ ته هډو احساس نه کيږي.

دِل ہائے گناہوں سے بیزار نہیں ہوتا
مَغلُوب شَہا! نفسِ بدکار نہیں ہوتا

اے ربّ کے حبیب آؤ اے میرے طبیب آؤ
اچھا یہ گناہوں کا بیمار نہیں ہوتا

گو لاکھ کروں کوشش اِصلاح نہیں ہوتی
پاکیزہ گناہوں سے کِردار نہیں ہوتا[1]

## انسان په غفلت کښې دے

د صحابئ رسول حضرت جابر بن عبدُ الله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې زمونږ آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **انسان چې د څه د پاره پيدا کړے شوے دے**

[1] وسائلِ بخشش،صفحہ:163 ملتقطًا۔

**د هغې نه په غفلت کښې دے.** الله پاک چې کله د انسان د پيدا کولو اراده فرمائي نو فرښتې ته فرمائي: د ده رزق اوليکه! د ده عملونه اوليکه! د ده مرګ اوليکه! او د ده نيک بختـي يا بدبختـي هم اوليکه! بيا هغه فرښته لاړه شي او الله پاک بَله فرښته رااوليږي کومه چې دا ليکلے شوي په ښه طريقه محفوظ کړي بيا هغه فرښته هم لاړه شي او الله پاک په دې بنده باندې دوه فرښتې مقررې کړي کومې چې د ده نيکئ او ګناهونه ليکي او کله چې د ده د مرګ وخت راشي نو هغه فرښتې هم خپل ځايونه پريږدي او ملكُ المَوت عَلَيْهِ السَّلَام د هغه د روح د قبض کولو د پاره راشي، کله چې دا په قبر کښې کېښودلے شي نو د ده روح بدن طرف ته واپس کړے شي او د قبر دوه فرښتې (يعنې منکر نکير) د هغه د امتحان اخستلو د پاره راشي او بيا هغه هم لاړې شي. بيا چې کله قيامت قائم شي نو نيکئ او ګناهونه ليکونکې فرښتې به ښکته راکوزې شي او د هغه په غاړه کښې غوټه کړے شوے کتاب به برسيره کړي بيا به هغه واخلي او داسې به حاضرې شي چې يوه به قائد [يعنې مخکښې تلونکې] او بله به سائِق (چلولو والا) وي. د دې نه پس خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **يقيناً ستاسو مخې ته يوه ډيره لويه معامَله ده د کومې چې تاسو طاقت نه لرئ ځکه د خدائے بُزرګ و برتر نه مدد اوغواړئ.**[1]

عمل کا ہو جذبہ عَطا یا الٰہی! | گناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی!
میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت | ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی![2]

## د قبر معامله آسانه نه ده

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه به په خپلو سترګو خلق مړه کيدل ليدلي وي خو ياد

---

[1]... حلية الاولياء، جلد:3، صفحہ:221، رقم:3775 ملتقطاً۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:102۔

ساتئ! مړه کیدل آسان نه دي، مونږه به په خپلو لاسونو مړي ته کفن ورکړے وي، کفن ورکول آسان کار دے، خو اغوستل ئې آسان نه دي، مونږ به جنازې له اوګه ورکړي وي خو د جنازې په ګټ کښې سملاستل او په 4 اوګو باندې اوچتیدل آسان نه دي، مونږه به ډېر خلق قبر ته کوز کړي وي یاد ساتئ! قبر ته کوزول آسان دي، خو قبر ته کوزیدل آسان نه دي. معامله واقعي ډیره سخته ګرانه ده.

لږ تَصُوُّر خو اوکړئ! لکه څنګه چې د مالوچو په ډيري کښې د غنو [یعني ازغو] څانګه کیښودے شي او په یوے جټکے سره راښکلے شي، داسې چې زمونږ د بدن نه رُوح راښکلے شي، زمونږ د بدن هره حصه به په درد او تکلیف کښې وي، تکلیف هم څنګه...؟ د زرو (1000) تورو د ګُزار نه هم زیات سخت...!! بیا په دې خراب حالت کښې به زمونږ د حال تپوس کوونکے هم څوک نه وي، زمونږه مور و پلار، اولاد، خویندې وروڼه، خپل خپلوان، زمونږه نازونه وړونکي زمونږ د کټ سر ته ولاړ وي، څوک زمونږه مدد نشي کولے، ټول ګوته په خُله پاتې شي، مونږه چا ته خپل غم هم نشو بیانولے، آه! زمونږ نه ګیر چاپیره چغے سورے وي او مونږه د چا سره خبرې هم نشو کولے، زمونږه مال، زمونږه دولت، زمونږه بینک بیلنس، زمونږه ګاډي، زمونږه محلونه، زمونږه بنګلے، زمونږه طاقت او قُوَّت، زمونږه عهدے او منصب، زمونږه ډګریانے هر څه هم داسې پاتې شي، زمونږ د بدن نه اغوستې جامې هم لرې کړے شي، خالي کفن راته راکړے شي، بیا زمونږه مینه وال، نازونه وړونکي، پخپله په خپلو اوګو باندې مونږه اوچت کړي او په تنګ او تیارهٔ قبر کښې مو خملوي، په خپلو لاسونو راباندې خاورې واړوي، مونږه د هغوئي د قدمونو آواز اورو خو مونږه هغوئي ته غږ نشو کولے، آه! دا تکلیف کوم چې مخکښې کله هم نه وي رارسیدلے، داسې تنهائي د کومې سره چې

مونږه کله هم نه يو مخ شوي، داسې وحشت چې داسې وحشت مونږه کله هم نه وي ليدلے، بيا دلته بس نه دي...!! اوس به په غمونو باندې غمونه تيريږي، نوي کور ته به راغلي يو او لا لږ وخت به مو پکښې تير کړے هم نه وي، اوس به لا د دې تنهائې سره عادت شوي هم نه يو، د رُوح وتلو په تکليف کښې به کمے هم نه وي راغلے چې ناڅاپه به د قبر ديوالونه اولړزيږي، دوه فرښتې به د قبر ديوالونه اوشلوي او قبر ته به را اورسي او په سخته لهجه کښې به زمونږ نه پوښتنې شروع کړي، آه! که چرې مونږه د دغه پوښتنو صحيح جوابونه ورنکړے شو، هئ! هئ! که چرې مونږه د قبر په امتحان کښې کامياب نشو نو زمونږ په قبر کښې به د دوزخ اور بَل کړے شي، عذاب به راباندې مُسَلَّط کړے شي، آه! زمونږه به څه کيږي؟ چرته به ځو؟ چا ته به د مدد د پاره چغے وهو؟

قبر روزانہ یہ کرتی ہے پکار
مجھ میں ہیں کیڑے مکوڑے بیشمار
یاد رکھ میں ہوں اندھیری کوٹھڑی
تجھ کو ہوگی مجھ میں سُن وَحشت بڑی
میرے اندر تُو اکیلا آئے گا
ہاں مگر اعمال لیتا آئے گا
گھپ اندھیری قبر میں جب جائے گا
بے عمل! بے انتہا گھبرائے گا
جب ترے ساتھی تجھے چھوڑ آئیں گے
قبر میں کیڑے تجھے کھا جائیں گے
قبر میں تیرا کفن پھٹ جائے گا
یاد رکھ نازک بدن پھٹ جائے گا
تیرا اک اک بال تک جھڑ جائے گا
خوبصورت جسم سب سڑ جائے گا
کر لے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی
قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... وسائلِ بخشش، صفحہ:711-712 ملتقطاً۔

## مرګ به ناڅاپه راشي

حضرت عبدُ الله بن عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ يو ګس ته په نصيحت کولو کښې اوفرمائيل: اے وروره! آيا تا ته پته ده چې مرګ تا ته مخامخ دے ناڅاپه به راشي، پته نه لګي چې ستا خوا له به سحر راځي که ماښام، د شپې راځي که د ورځې، بيا به وحشتناک قبر او منکر نکير ته مخامخ کيدل وي او بيا د قيامت هغه ورځ په کومه کښې چې به باطل پرست تاواني وي.[1]

بے وفا دنیا پہ مت کر اِعتبار
تُو اچانک موت کا ہوگا شکار
موت آ کر ہی رہے گی یاد رکھ!
جان جا کر ہی رہے گی یاد رکھ!

## قبر د جنّت باغ يا د دوزخ کنده

د حضرت ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: خوندونه ختموونکے مرګ ډير ډير يادوئ ځکه چې قبر هره ورځ غږ کوي او وائي: زه د نا اشنائې کور يم، زه د تنهائې کور يم، زه د خاورو کور يم او زه د چينجو کور يم. کله چې مؤمِن په قبر کښې ښخ کړے شي نو قبر هغه ته وائي: مرحبا! تهٔ زما په مَلا باندې په ګرځيدونکو کښې زما ډير خوښ وے او اوس تهٔ ما ته دننه راغلے اوس تهٔ زما ښه سلوک ته اوګوره، بيا قبر د هغه د پاره د نظر تر حده پورې فراخه شي او د هغه د پاره د جنّت دروازه برسيره کړے شي او کله چې يو فاجر (يعني ګنهګار) يا کافر ګس ښخ کړے شي نو قبر وائي: تا ته هيڅ کله مرحبا نشته، تهٔ زما په مَلا باندې په ګرځيدونکو کښې زما په نزد ټولو نه خراب ګس وے او اوس تهٔ ما ته دننه راغلے ئې

[1]... شعب الایمان، باب فی حفظ اللسان، جلد:4، صفحہ:214، رقم: 4834 ۔

ځکه اوس د ځان سره زما سلوک اوګوره بيا قبر په هغه باندې راتنګ شي او د هغه پوښتۍ په يوه بَله کښې دننه شي. راوي وائي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا خبره د خپلو مبارکو ګوتو په يو بَل کښې د اچولو سره په اشارې سره اوکړله او بيا ئې اوفرمائيل: الله پاک په دغه [کافِر] باندې 70 زره اژدهاګانے مقررې کړي که چرې د هغې نه يوه هم په زمکه اوغوړيږي نو د دُنيا تر آخره پورې به چرې هم څه څيز اونه ټوکيږي، هغه اژدهاګانے به مړے تر قيامته پورې چيچي [اوټکونه به ورله ورکوي]. راوي وائي: هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِنَّمَا الۡقَبۡرُ رَوۡضَةٌ مِّنۡ رِيَاضِ الۡجَنَّةِ اَوۡحُفۡرَةٌ مِّنۡ حُفَرِ النَّار **يعنې قبر د جنّت د باغونو نه يو باغ دے يا د دوزخ د کندو نه يوه کنده.**[1]

| | |
|---|---|
| گناہگار ہوں میں لائقِ جہنّم ہوں | کرم سے بخش دے مجھ کو نہ دے سزا یارب! |
| بُرائیوں پہ پَشیماں ہوں رَحم فرمادے | ہے تیرے قَہر پہ حاوی تری عطا یارب! |
| گناہ بے عدد اور جُرم بھی ہیں لاتعداد | مُعاف کر دے نہ سہ پاؤں گا سزا یارب! |
| میں کر کے توبہ پلٹ کر گناہ کرتا ہوں | حقیقی توبہ کا کر دے شَرَف عطا یارب! |

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب      صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مړي ته د قبر رَټل

د حضرت ابو حَجاج ثُمالي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کله چې مړے په قبر کښې کيښودلے شي نو قبر هغه ته وائي: ستا دې خرابي وي آيا تا ته پته نه وه چې زه د فتنے کور يم، د تيارې کور يم، د تنهائې کور يم او د چينجو کور يم، اے انسانه! کوم څيز تۀ زما نه غافِله اوساتلے چې تۀ به په

[1]... ترمذی، ابواب صفۃ القیامۃ و الرقائق و الورع، صفحہ:584، حدیث:2460۔

ما باندې په غرور سره ګرځيدلې.[1]

قبر روزانہ یہ کرتی ہے پکار
یاد رکھ میں ہوں اندھیری کوٹھڑی
میرے اندر تُو اکیلا آئے گا
گھپ اندھیری قبر میں جب جائے گا
کر لے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی

مجھ میں ہیں کیڑے مکوڑے بیشمار
تجھ کو ہوگی مجھ میں سُن وَحشت بڑی
ہاں مگر اعمال لیتا آئے گا
بے عمل! بے انتہا گھبرائے گا
قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اووايه تا زما د پاره څه تياري اوکړه

حضرت عبدُالله بن عُبَيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما ته دا خبره رارسيدلې ده چې حضور نبئ پاک، صاحبِ لولاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: مړے چې کله په قبر کښې کيښودے شي نو هغه کښيني او د جنازې سره د راغلو [خلقو] د قدمونو آواز اوري، د ټولو نه مخکښې د هغه قبر د هغه سره خبرې کوي او وائي: اے ابنِ آدم! ستا دې بد وي آيا ته زما نه نۀ وې ويرولے شوے؟ آيا تا ته زما د تنګ والي، بدبو، وحشت او چينجو نه ويره نه وه ښودلے شوې؟ دا ما د ننئ ورځې د پاره تيارے کړے دے تۀ اووايه تا زما د پاره څه تياري کړې ده؟[3]

## د مرګ تياري اوکړئ!

د حضرت عبدُ الله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُما نه روايت دے چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم

[1]... مسند ابی یعلیٰ ، جلد:5، صفحہ:233 ، حديث:6864۔
[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:711-712 ملتقطًا۔
[3]... زُهد لابن المبارک، باب: ما يبشربہ الميت عند الموت...الخ، صفحہ:466، حديث :160۔

ﷺ اوفرمائيل: د خپل قبر د پاره ښه پوره تيارے اوکړئ ځکه چې قبر هره ورځ ووه ځله دا غږ کوي: اے کمزوري انسانه! زما سره د ميلاؤيدو نه مخکښې په خپل ژوند کښې په ځان باندې رحم اوکړه، آيا تۀ به هغه وخت په ځان باندې رحم کوې کله چې په ما کښې خراب شې؟ [1]

حضرت سفيان ثوري رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: څوک چې قبر زيات يادوي هغه به دا د جنّت په باغونو کښې يو باغ بيامومي او څوک چې د ده د ياد نه غافِله شي هغه به دا د دوزخ په کندو کښې يوه کنده بيامومي. [2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه دې دنيا ته راغلو، دلته د اوسيدو د پاره نۀ، د تللو د پاره راغلي يو، چې څه هم اوکړو، آخر د دې ځائے نه تلل دي، د قبر کندې ته خامخا کوزيدل دي، دې د پاره ښه هم دا دي چې مونږه د اوس نه د قبر او آخرت تياري اوکړو.

## دُنيا د آخرت د تيارئ د پاره خاص ده

**ياد ساتئ!** دا دُنيا د خوراک څښاک، مال جمع کولو، د عاليشان کورونو او بنګلو جوړولو، عيش کولو، په فضولياتو کښې ورځو ضائع کولو د پاره نۀ، د نيکو کولو او د قبر و آخرت د تيارئ د پاره خاص ده، د مسلمانانو دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ په خپله آخري خطبه کښې اوفرمائيل: الله پاک تاسو ته دُنيا صرف دې د پاره عطا کړله چې تاسو د دې په ذريعه د آخرت تياري اوکړئ او د دې د پاره ئې درته نه ده درکړي چې تاسو هم د دې شئ، بے شکه دُنيا فاني ده او آخرت باقي دے. تاسو فاني (دُنيا) چرته بے لاري نکړي او د باقي (پاتې کيدونکي آخرت) نه مو غافِله نه کړي، فنا کيدونکي دنيا ته په

[1]... کنز العمال، کتاب: الموت،جز:15، جلد:8، صفحہ:235، حديث:42137۔

[2]... التذکرة للقرطبی، باب ما جاء فی کلام القبر کل يوم ... الخ، صفحہ:87 ۔

باقي پاتې کیدونکي آخرت باندې ترجیح مه ورکوئ ځکه چې دُنیا د لاس نه وتونکې ده او بے شکه الله پاک طرف ته ګرځیدل دي. د الله پاک نه ویرېږئ ځکه چې د هغه د عذاب د پاره (دیوال او) ډال او د هغه تر الله پاک پورې د رسیدو ذریعه ده.[1]

ہے یہ دنیا بےوفا آخِر فنا　　نہ رہا اس میں گدا نہ بادشہ

## په قبر کښې پکار راتلونکي عملونه

اے عاشقانِ رَسُول! که چرې د قبر وحشت او تنهائي په امن او راحت کښې، د قبر تیاره په رڼا کښې د بدلولو او د قبر د عذاب نه خلاصي موندلو خواهش وي نو یقیناً د دې د پاره به د اوس نه تیاري کول وي. هغه کوم کارونه دي، د کومو د خپلولو سره چې مونږه خپل قبر روښانه کولے شو؟ د قبر د وحشت او تنهائي نه بچ کیدے شو: راځئ! اورو:

## (1): عقیده صحیح ساتئ!

وړومبے کار: دا چې خپله عقیده صحیح ساتئ او همیشه په دې باندې په مضبوطیا سره قائِم اوسیږئ! ځکه چې په قبر کښې اصلي ازمیښت هم د عقیدې. د لمُونځ، روژې، حج، زکوٰة وغیره حساب به هم کیږي خو د قیامت په ورځ، په قبر کښې 3 سوالونه دي: **(1)** ستا رَبّ څوک دے؟ **(2)** ستا دین څه دے؟ **(3)** تهٔ د دې هستئ (یعني آخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په باره کښې څه وائې؟

دا درې واړه سوالونه د عقیدې دي. ځکه همیشه خپله عقیده مضبوطه ساتئ! د الله پاک په باره کښې، د آخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په باره کښې، د الله پاک د کتابونو، د هغه د رسولانو، د فرښتو په باره کښې، د صحابهٔ کرامو عليهمُ الرِّضوَان ، اهلِ بیتِ

[1]... موسوعہ ابن ابی الدنیا، ذم الدنیا، جلد:5 ، صفحہ:83۔

اظهار په باره کښې همیشه هم هغه عقیده ساتئ! کومه چې د صحابهٔ کرامو، اولیائے کرامو او د سوونو کلونو نه د عاشقانِ رسول علمائے کرامو عقیده تیره شوې ده.

که چرې مونږه صحیح اسلامي عقیدې خپلې کړو او په دې باندې همیشه قائم پاتې شو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د قبر د عذاب نه به بچ شو.

## قبر د نظر تر حده پورې فراخه کړے کیږي

د حضرت عبدُ الله بن عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا نه روایت دے چې مصطفٰے جانِ رحمت، شمع بزمِ هدایت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: کله چې مړے په قبر کښې کیښودے شي او خلق ترې بیرته رووان شي نو مړے د هغوئي د پیزار آواز اوري بیا چې کله کښیني نو د هغه نه پوښتنه کولے شي: ستا رَبّ څوک دے؟ هغه وائي: الله پاک. بیا پوښتنه کیږي، ستا دِین څه دے؟ هغه وائي: اسلام. بیا پوښتنه کولے شي: ستا نبي څوک دے؟ هغه وائي: حضرت مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم. بیا سوال کیږي: تا ته د ده په باره کښې څه پته ده؟ هغه وائي: ما دا اوپیژندلو او کوم کتاب چې هغوئي راوړو ما د هغه تصدیق اوکړو. نو دغسې د هغه قبر د نظر تر حده پورې فراخه کړے شي او د هغه رُوح د مؤمِنانو د رُوحونو سره میلاؤ کړے شي.[1]

## صحیح عقیدې والا مؤمِن د قبر حال

حضرت عبدُ الله بن عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي چې حضور نبئ رحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یو انصاري په جنازه کښې شرکت اوکړو او تر قبره پورې ئې ورسره تشریف یوړلو تر هغه وخته پورې قبر نه وو کنستلے شوے ځکه هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف فرما شول او خلق هم د هغوئي په خوا کښې داسې خاموشه کښیناستل لکه چې

---

[1]... شرح الصدور، صفحه:91۔

د هغوئي په سرونو باندې مرغۍ ناستې دي. بيا هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زمکې په لور نظر اوفرمائيلو او په ډَکي [چخچي] ئې د زمکې په کنستلو شروع اوکړه بيا ئې د آسمان په لور بره نظر اوکړو او 3 ځله ئې داسې دُعا اوفرمائيله: اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ يعنې زه د قبر د عذاب نه د الله پاک پناه غواړم. بيا ئې اوفرمائيل: کله چې مؤمِن دُنيا وروسته پرېږدي او د آخِرت په لور ورمخکښې شي نو حضرت ملكُ المَوت عَلَيْهِ السَّلَام د هغه د سر خوا ته راشي او کښېني، د هغه سره نورې فرښتې هم وي د کومو سره چې جنتي ډالئ، خوشبو او جامې وي، هغه ټولې د نظر تر حده پورې صف په صف کښېني، وروسته حضرت ملكُ المَوت عَلَيْهِ السَّلَام هغه ته زيرے ورکړي بيا نورې فرښتې هغه ته زيرے ورکړي نو د هغه رُوح د حضرت ملكُ المَوت عَلَيْهِ السَّلَام د طرف نه په ورکړے شوي زيري خوشحاله شي او د مشک نه د څاڅکي څڅيدو په مثال د بهيدو سره را اوځي، بيا ملكُ المَوت عَلَيْهِ السَّلَام د هغه روح واخلي او د سترګو په رَپ کښې ئې نورو فرښتو ته حواله کړي هغوئي فوراً هغه په جنتي ډالو کښې را اونغاړي او هغه وخت د زمکې او آسمان ترمينځه يوه خوشبو خوره شي، فرښتې وائي: دا خوشبو څومره ښکلې ده. نورې فرښتې وائي: دا خوشبو نن د قبض کړے شوي فلانکي مؤمِن د روح ده، کله چې هغه تر آسمانه پورې راوړے شي نو د آسمان دروازې د هغه د پاره بيرته شي، هره دروازه دا غواړي چې هغه روح زما نه تير کړے شي، نو دغسې هغه د هغه د عمل د دروازې نه تير کړے شي نو هغه په ژړا شي او د کوم کوم آسمان والـؤ په خوا چې هغه تيرېږي ټول هم داسې وائي چې **مرحبا هغه ځان** [يعني روح] **ته کوم چې د خپل رَبِّ کريم حکم اومنلو** تر دې چې هغه تر د **سِدرَةُ المُنتهٰی** پورې اورسولے شي، حضرت ملكُ المَوت عَلَيْهِ السَّلَام او د هغه مددګارې فرښتې عرض کوي: الٰهی! مونږ د فلانکي بن فلانکي مؤمِن روح قبض کړے دے.

حالانکه رَبِّ کریم د هغوئي نه زیات پوهیږي. الله پاک ارشاد فرمائي: دا د زمکې په لور واپس کړئ، ما دا بندګان د دې نه پیدا کړل، دې ته به ئې واپس کووم او دوئي به د دې نه بیا راپورته کووم. دفن کوونکي چې کله واپس ځي نو مړے د هغوئي د پیزار آواز او د لاسونو د ځَندلو آواز هم اوري، بیا د ده خوا له 3 فرښتې راځي، 2 د رحمت او یوه د عذاب، د بنده نیک عمل هغه په خپل حفاظت کښې اخلي، لمُونځ د ښپو سره، روژه د سر سره، زکوٰة ښي طرف، صدقه ګس طرف او نیکي او ښه اخلاق د سینې خوا له راشي، اوس چې د عذاب فرښته د کوم طرف نه هم راځي نیک عمل هغه منع کوي، هغې فرښتې په لاس کښې دومره دروند ګرُز نیولے وي او ولاړه وي چې که چرې په منٰی کښې راجمع شوي ټول [خلق] په شریکه هم دا اوچتول غواړي نو اوچت به ئې نکړے شي، بیا هغه وائي: اے نیک بنده! که چرې لمُونځ، روژې، زکوٰة او صدقے ستا حفاظت نه کولے نو ما به تهٔ په دې ګرُز داسې وهلے وے د کوم نه چې په قبر کښې اور غرغنده کیږي، هغه د رحمت فرښتو ته وائي: دا ستاسو د پاره او تهٔ د دوئي د پاره ئې، هم دغسې هغه رُخصت شي او د رحمت یوه فرښته بَلې ته وائي: د الله پاک د ولي سره نرمي کوه ځکه چې دا د لوئے مصیبت نه راغلے دے. فرښته پوښتنه کوي: ستا رَبّ څوک دے. بنده وائي: الله پاک. هغه پوښتنه کوي: ستا دِین څه دے؟ مړے جواب ورکوي: زما دِین اسلام دے. فرښته بیا پوښتنه کوي: ستا نبـي څوک دے؟ بنده وائي: حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم. فرښته پوښتنه کوي: تا ته څه پته ده؟ بنده وائي: ما د الله کتاب اولوستو په ده مې ایمان راوړو او د ده مې تصدیق اوکړو. د دې سوال فرښتې په سختئ سره تپوس کوي او دا مؤمِن ته راوړاندې کیدونکے د ټولو نه سخت ازمیښت دے، بس د آسمان نه آواز راځي: زما بنده رښتیا اووئیل، د ده د پاره جنتي بستره خوره کړئ، جنتي جامے

ورته ور واغوندئ او په جنتي خوشبو ئې مُعَطَّر کړئ او د ده قبر د نظر تر حده پورې فراخه کړئ، يوه جنتي دروازه د ده د سر د طرف نه او يوه د ښپو د طرف نه برسيره کړئ. فرښتې هغه ته وائي: د ناوې په شان اوده شه تا له به د قبر عذاب نه درکړے کېږي. هغه وائي: يا الٰهي! قيامت راولې د پاره د دې چې زه د خپل کور والا او مال طرف ته واپس لاړ شم او هغه څه بياموم کوم چې تا زما د پاره تيار کړي دي، هم دغسې به هغه د قيامت په ورځ د پړقيدونکي مخ سره د قبر نه راپورته کولے شي.[1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو واوريدل! په قبر کښې به درې پوښتنې کيږي او هغه درې واړه پوښتې د څه په باره کښې دي، د عقيدو په باره کښې. که چرې مونږه خپله عقيده مضبوطه اوساتله، بالکل په هغه عقيدو باندې قائم پاتې شو کومې عقيدې چې د صحابهٔ کرامو او اوليائے کرامو او علمائے کرامو دي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د قبر په امتحان کښې به کامیابي نصيب شي او قبر به د جنّت د باغونو نه يو باغ جوړ شي.

قبر میں لہرائیں گے تا حشر چشمے نُور کے | جلوہ فرما ہوگی جب طلعت رسول اللہ کی

## د صِدِّيق او عمر (رَضِیَ اللهُ عَنْهما) وسيله پکار راغله

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان په باره کښې صفا، ستهرا او صحيح اسلامي عقيده او د دوئي سره محبّت او عقيدت هم د قبر د عذاب نه د خلاصي ذريعه ده، هم دغسې د خپل دور مُجَدِّد او ډير لوئے عالِم، مُفَسِّر، مُحَدِّث حضرت امام جلالُ الدِّين سيوطي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: چې د قرآن مُفَسِّر حضرت ابو القاسم بن هِبَةُ الله رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: زمونږه يو هَم مکتب (کلاس فيلو) وفات شو نو استاذ صاحب

[1] ... شرح الصدور، صفحہ:91۔

هغه په خوب کښې اولیدو او پوښتنه ئې ترې اوکړه: الله پاک ستاسره څه معامَله اوفرمائیله؟ هغه اووئیل: زه بخښلے شوے یم. استاذ صاحب پوښتنه اوکړه: د نکیرین (یعني په قبر کښې د پوښتنو کوونکو فرښتو) سره څنګه [وخت] تیر شو؟ هغه اووئیل: استاذ صاحبه! کله چې زه نکیرین کښینولم او پوښتنه ئې اوکړه چې ستا رَبّ څوک دے او ستا نبي څوک دے؟ نو الله پاک زما په زړه کښې واچول چې زه دې فرښتو ته اووایم: د حضرت ابو بکر او حضرت عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنْہما په وسیله باندې ما پرېږدئ! نو یوې فرښتې بَلې ته اووئیل: ده مونږ له ډیر غټ قسم راکړے دے، څکه دا پرېږده. هم دغسې هغه دواړو زه پرېښودم او لاړلې.[1]

| | |
|---|---|
| کیوں نہ ہو رُتبہ بڑا اَصحاب و اہلِ بیت کا | ہے خدائے مصطفٰی، اَصحاب و اہلِ بیت کا |
| آل و اَصحابِ نبی سب بادشہ ہیں بادشاہ | میں فقط ادنیٰ گدا اَصحاب و اہلِ بیت کا |
| فَضلِ ربّ سے دو جہاں میں کامیابی پائے گا | دل سے جو شَیدا ہوا اَصحاب و اہلِ بیت کا |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ہر صحابیٔ نبی! | جنّتی جنّتی | سب صحابیات بھی! | جنّتی جنّتی |
| چار یارانِ نبی! | جنّتی جنّتی | حضرتِ صدیق بھی! | جنّتی جنّتی |
| اور عمرِ فاروق بھی! | جنّتی جنّتی | عثمانِ غنی! | جنّتی جنّتی |
| فاطمہ اور علی! | جنّتی جنّتی | ہیں حَسَن حُسین بھی! | جنّتی جنّتی |
| والِدَینِ نبی! | جنّتی جنّتی | ہر زوجۂ نبی! | جنّتی جنّتی |
| اور ابو سُفیان بھی! | جنّتی جنّتی | ہیں مُعاویہ بھی! | جنّتی جنّتی |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب     صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]... المنتظم لابن جوزی، جلد:15، صفحہ:138، رقم :3092- ہِبَۃُ اللہ بن سلامہ ۔

## (2): د قبر سوالونه يادوئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د قبر روښانه کولو او د قبر د عذاب نه بچ کيدونکے دويم کار دا دے چې په قبر کښې کوم سوالونه کيدل دي، هغه يادوئ، چې په دې دُنيا کښې د دې سوالونو جوابونه بيا بيا وايو، دا په خپله ژبه باندې ښه جاري کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! کرم به کيږي، په قبر کښې چې کله فرښتې پوښتنې کوي نو بے اختياره به په ژبه هم هغه جوابونه راځي کوم چې مونږه په دُنيا کښې ياد کړي وي.

## ژبه په دې کلماتو عادته کړئ!

حضرت عبد الله بن عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ روايت کوي: د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے خلقو! خپلې ژبې په دې کلماتو عادتې کړئ:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ وَاللّٰهَ رَبُّنَا وَالْاِسْلَامَ دِيْنُنَا وَمُحَمَّدًا نَبِيُّنَا

يعني د الله پاک نه سِوا هيڅ معبودِ برحق نشته او مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ) د الله رسول دے، الله پاک زمونږه رَبّ، اسلام زمونږه دين او حضرت مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږه نبي دے. ځکه چې په قبر کښې به ستاسو نه د دې خبرو په باره کښې پوښتنه کولے شي.[1]

## صحابه کرامو به بچو ته د قبر سوالونه ښودل

د حضرت راشد بن سعد رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نه روايت دے چې مُعَلِّمِ کائنات، شاهِ موجودات صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: خپل دليل زده کړئ! ځکه چې ستاسو نه به پوښتنه کولے شي. د دې فرمان دومره اثر اوشو چې په انصارو کښې به کله د چا مرګ نزدې راتللو نو هغه

[1]... فردوس الاخبار، جلد:1 ، صفحہ:69، حديث: 347 ۔

ته به د نکيرين د سوالونو جوابونه ښودلے کيدل او ماشوم چې به کله عقل مند شو نو هغه ته به هم وئيلے شول چې کله ستا نه پوښتنه اوکړے: چې ستا رَبّ څوک دے؟ نو وايه: زما رَبّ الله پاک دے. چې کله پوښتنه اوکړے شي: ستا دِين څه دے؟ نو وايه: زما دِين اسلام دے او چې کله دا پوښتنه اوکړے شي چې ستا نبي څوک دے؟ نو وايه: زما نبي مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** مونږ له پکار دي چې وخت په وخت دا د قبر سوالونه او د دې جوابونه بيا بيا وايو او خپلو بچو ته هم دا سوالونه او جوابونه ياد کړو.

## زما نه دا پوښتنه کوئ حالانکه...!!

حضرت حَوثَره بن محمد مِنقَرِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما حضرت يزيد بن هارون رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خوب کښې اوليدلو نو هغه وئيل: منکر نکير زما خوا له راغلل او زه ئې کښينولم او پوښتنه ئې اوکړه: ستا رَبّ څوک دے؟ ستا دِين څه دے؟ او ستا نبي څوک دے؟ ما د خپلې سپينې ګيرې نه خاوره اوڅَنډله او اومې وئيل: زما په شان [کَس] نه دا پوښتنه کولے شي، زه يزيد بن هارون يم او ما په دُنيا کښې خلقو ته تر 60 کالو پورې د دې سوالونو جوابونه ښودل. يوې فرښتې اووئيل: دا رښتيا وائي. بيا ئې اووئيل: د ناوې په شان اوده شه! د نن نه پس په تا باندې هيڅ ويره نشته دے.[2]

## د قبر نه ئې د لمَر په شان رڼا را اوتله

حضرت علاء بن عبدُ الکريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو کَس د کوم چې بينائي ډېره کمزورې

---

[1]... تفسير درِّ منثور، پاره:13، سورهٔ ابراهيم، زيرِ آيت:27، جلد:5، صفحه:38۔

[2]... شرح اصول اعتقاد اهل السنه، جز:6، جلد:3، صفحه :453 ، رقم :2147 ملتقطًا ۔

وه هغه وائي: زما ورور وفات شو، مونږه هغه دفن کړو، کله چې خلق لاړل نو ما د ورور په قبر باندې سر کيښودو، ناڅاپه د قبر د دننه نه ما آواز واوريدلو: ستا رَبّ څوک دے؟ ستا دِين څه دے؟ او ستا نبـي څوک دے؟ ما د خپل ورور آواز واوريدلو، هغه اووئيل: اللّٰه پاک زما رَبّ دے او حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما نبـي دے. په دې کښې د قبر د دننه نه د لمَر د پلوشو په شان رڼا زما د غوږونو په لور را اوچته شوه او زه د هغه ځائے نه لرې شوم.[1]

قبر ميں لہرائيں گے تا حشر چشمے نُور کے | جلوہ فرما ہوگی جب طلعت رسول اللہ کی

## (3): د قرآن د تلاوت عادت خپل کړئ!

د قبر د تيارې او د وحشت نه بچ کيدلو والا دريم نيک عمل: **د قرآن تلاوت** دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه! قرآنِ کريم ډير وفادار ملګرے دے، چې کله دوستان، ملګري، خپل خپلوان، سَکه خويندې ورونړه، تر دې چې مور و پلار هم [مړ] انسان يواځې د قبر په کنده کښې کيږدي او بيرته ترې لاړ شي نو قرآنِ کريم په دغه وحشت او تنهائې کښې هم ملګرتيا نه پريږدي، قرآنِ کريم د قبر د عذاب نه بچ کوي او اللّٰه پاک ته د سفارش کولو سره قبر روښانه کوي.

## د تلاوت کوونکي قبر فراخه کولے شي

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: په کوم کور کښې چې د قرآنِ کريم تلاوت کولے شي په هغه کور باندې د نور يوه خيمه وي د کومې نه چې آسمان والا راهنمائي حاصلوي لکه څنګه چې د چپے وهونکي سمندر او په هواره فراخه ميدانونو

[1]... موسوعہ ابن ابی الدنیا، کتاب القبور، جلد:6، صفحہ:84-85 ۔

کښې د لعلونو په شان د ستوري نه راهنمائي حاصلولے شي، کله چې تلاوت کوونکے وفات شي نو هغه نُور والا خيمه اوچته کړے شي، فرښتې د آسمان نه ګوري نو هغوئي ته هغه نُور نه ښکاري بيا فرښتې هغه د يو آسمان نه بَل آسمان ته وړي او د هغه په رُوح باندې دُرُود ليږي بيا تر قيامته پورې د هغه د پاره اِستِغفار کوي او کوم مؤمن چې هم کتابُ الله زده کړي او بيا د شپې څه وخت هم لمُونځ کوي نو هغه شپه بَلې شپې ته وصيت کوي چې دا مومن په ټاکلے شوي وخت باندې بيدار کړه او د ده د پاره آسانه شه، کله چې هغه وفات شي نو د هغه کور والا د هغه د کفن په تيارئ کښې مشغول شي ولې قرآنِ کريم ډير په ښکلې شکل کښې د هغه د سَر په خوا کښې حِصار شي بيا د کفن نه ښکته او د سينې نه بره راشي او کله چې هغه په قبر کښې کيښودلے شي او په هغه باندې خاوره سَمه کړے شي او دوستان او خپلوان ئې بيرته لاړ شي نو نکيرين راشي او هغه په قبر کښې کښينوي په دې کښې قرآنِ کريم د مؤمن او فرښتو ترمينځه پرده [يعنې خنډ يا ديوال جوړ] شي، فرښتې وائي: يو طرف ته شه د پاره د دې چې مونږه د ده نه پوښتنه اوکړو. هغه وائي: د کعبې په رَبّ مې دې قسم وي! داسې به هيڅ کله هم اونشي ځکه چې دا زما ملګرے او زما دوست دے زه به دا په يو حالت کښې هم يواځې نه پريږدم البته که چرې تاسو ته د څه خبرې حکم وي نو تاسو په هغې باندې عمل اوکړئ او ما په خپل ځائے پريږدئ ځکه چې زه به جنّت ته د رسولو نه مخکښې د ده نه جُدا نه شم. بيا قرآنِ کريم خپل دوست ته ګوري او وائي: زه هغه قرآن يم کوم چې به تا کله په تيز آواز او کله په ورو لوستلو او زما سره به دې مينه کوله، بس زما ستا سره مينه ده او زه چې د چا سره مينه کووم الله پاک هم هغه خپل محبوب جوړوي، د نکيرين د سوالونو نه پس په تا باندې نه څه ويره ده او نه څه غم. نکيرين د پوښتنو کولو نه پس

تشريف يوسي، اوس مؤمن وي او قرآنِ کريم، کلامِ مجيد فرمائي: زه به ستا د پاره نرمه او آرام کوونکي بستره خورووم او ډير ښکلے ځادر به درته عطا کووم ځکه چې تهٔ به ټوله شپه زما د پاره ويخ وے او ټوله ورځ به دې زما د پاره تکليف کولو. بيا قرآنِ کريم د ستړګو د رَپ نه هم زر د آسمان په لور پرواز اوکړي او د رَبِّ کريم نه د بسترې او ځادر سوال کوي نو هغه ده ته عطا کړے شي، بيا د شپږم آسمان زر [1000] فرښتې د هغه سره راکوزې شي او قرآنِ کريم د مؤمن نه تپوس کوي چې تهٔ زما په غير موجودګئ کښې ويريدلے خو نه وے زه د رَبِّ کريم خوا له ستا د پاره د بسترې او ځادر راوړلو د پاره تلے ووم او هغه مې راوړي دي ځکه اودريږه! چې دغه شان فرښتې بستره سَمه کړي، بيا فرښتې ډير په نرمئ سره هغه راپاڅوي او د هغه قبر د 400 کاله په مَزَل فراخه کړے شي بيا د هغه د پاره د اَذفَر نومې خوشبو لګيدلي شين ريښم اوغوړولے شي او د هغه سر او ښپو ته به د نرمو او غټو ريښمو بالښتونه کيښودے شي، د هغه سر او ښپو ته د جنّتي نور 2 ډيوے بَلې کړے شي کومې چې به تر قيامته بلې وي بيا ورله فرښتې په ښئ ډډه قبلې ته مخ کړي او هغه له جنّتي ياسمين ورکړي او لاړې به شي او بيا تر قيامته هغه او قرآن پاتې شي. قرآنِ کريم شپه او ورځ د هغه خبر د هغه کور والؤ ته رَسَوي او د هغه سره داسې اوسيږي لکه ښنګه چې مهربانه پلار د خپل بچې سره اوسيږي، که چرې د هغه په اولاد کښې چا قرآنِ پاک اولوستلو نو قرآنِ کريم هغه له زيرے ورکوي او که چرې د هغه نه پس د هغه په اولاد کښې څوک بَدکاره وي نو قرآنِ کريم د هغه د اصلاح او بهترئ د پاره دُعا کوي.[1]

يهی ہے آرزو تعلیمِ قرآں عام ہو جائے | تلاوت کرنا صبح شام میرا کام ہو جائے

---

[1]... مسند بزار، جلد:7، صفحہ:97، حديث:2655 ۔

## (4) صدقه قبر روښانه کوي

د قبر تيارۀ په رڼا کښې او د قبر وحشت په اطمينان او سکون کښې د بدلولو يو نيک عمل د الله پاک په لاره کښې صدقه کول هم دي. د مصطفٰے جانِ رحمَت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارَك دے: اِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ عَلٰى اَهْلِهَا حَرَّ الْقُبُوْر (سحر او ماښام) بے شکه صدقه کوونکي صدقه د قبر د ګرمئ نه بچ کوي وَاِنَّمَا يَسْتَظِلُّ الْمُؤْمِنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيْ ظِلِّ صَدَقَتِهٖ يعني بے شکه مسلمان به د قيامت په ورځ د خپلې صدقې په سوري کښې وي.[1]

ځکه د صدقے کولو عادت جوړولو پکار دي. د صدقے کولو ډير زيات فضيلتونه دي: ❁ صدقه د بدئ 70 دروازے بندوي ❁ صدقه ورکوونکے به د قيامت په ورځ د خپلې صدقے په سوري کښې وي ❁ صدقه د قبر د ګرمئ نه بچ کوي ❁ صدقه ګناهونه داسې ختموي لکه ښنکه چې اوبه اور مړ کوي ❁ صدقه آفتونه، بلاګانے منع کوي ❁ صدقه عمر زياتوي ❁ صدقه د بد مرګ او بدې خاتمے نه بچ کوي ❁ صدقه د الله پاک غضب ختموي ❁ صدقه په رزق کښې د فراختيا او د مال د زيات والي سبب جوړيږي ❁ صدقه غربت او ناچاري ختموي[2] الغرض! صدقه د ډيرو خيرونو دروازے برسيره کوي او د ډيرو بدو دروازے بندوي. ځکه مونږ له پکار دي چې ښه د ډيرو صدقو او خيراتونو کولو سره د خپل قبر و آخرت د بهترئ ذريعه جوړه کړو.

## د عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي په ټوله دُنيا کښې د نيکئ دعوت

---

[1]... شُعَبُ الايمان، جلد:3، صفحه:212، حديث:3347۔

[2]... صدقے کا انعام، صفحه:17تا 19 ملتقطًا۔

عام کوونکے ديني تحريک دے. د اللّٰه پاک په فضل سره ❀ دعوتِ اسلامي د 80 نه زياتو شعبو کښې ديني خدمتونه ترسره کوي ❀ دعوتِ اسلامي تر اوسه پورې په زرګونو جُماتونه، په سوونو فيضانِ مدينه (مدني مرکزونه) جوړ کړي دي❀ هلکانو او جينکو ***(Boys & Girls)*** ماشومانو ته د قرآنِ پاک بيل بيل تعليم ورکولو د پاره تر اوسه پورې تقريباً 6509 (6 زره 509) مدرسة المَدينه جوړ کړے شوي دي، په کومو کښې چې تقريباً 2,94, 105 (2 لاکهه 94 زره 105) هلکانو او جينکو ماشومانو ته د قرآنِ کريم د حفظ او ناظرې مفت تعليم ورکولے شي. ❀ د نابينا ماشومانو د پاره هم بيلې مدرسة المَدينه جوړ کړے شوي دي. د شروع نه تر اوسه پورې تقريباً 1, 10, 358 (1 لاک، لس زره 358) ماشومانو قرآنِ پاک حفظ کړے دے او د ناظرې پوره کوونکو ماشومانو شمير 3, 89, 752 (3 لاکهه 89 زره 752) دے. ❀ د عِلم دين خوړولو (يعني د عالِم او عالِمې کورس) کولو د پاره بيلې بيلې جامعة المَدينه جوړې کړے شوې دي. تر اوسه پورې تقريباً 1310 جامعة المَدينه (د هلکانو او جينکو د پاره) جوړې کړے شوې دي، په کومو کښې چې تقريباً 1,04,857(1 لاکهه 4 زره 857) جينکو او هلکانو طالب علمانو ته درسِ نظامي (د عالِم او عالِمې کورس، فيضانِ شريعت کورس) مفت ورکولے شي. تراوسه پورې تقريباً 24,257 (24 زره 257) عالِم او عالِمَه کورس، فيضانِ شريعت کورس مکمل کړے دے. په لکونو حافظان، قاريان، امامان، مبلغ، مُعَلِّم، عالِم او د مفتيانو تيارولو سره د اُمّت د اِصلاح او کردار سازئ کار روان دے ❀ 14 دارُ الافتاء اهلِسُنَّت جوړ کړے شوي دي، چرته چې مفتيانِ کرام د اُمَّت په شرعي لارښودنه کښې مصروف دي، په دې کښې د مياشتې د 15 زرو نه د زياتو سوالونو جوابونه ورکولے شي. او ❀ په المَدينةُ العِلمِيَّه ***(Islamic Research Center)*** کښې په مختلفو موضوعاتو باندې 807 ديني

کتابونه چاپ کړے شوي دي او دا سلسله لا روانه ده ❁ د فيضان آن لائن اکيډمي (د جينکو او هلکانو د پاره) 47 شاخونه جوړې کړے شوې دي د کومو په ذريعه چې آن لائن عالِم کورس، قرآنِ پاک (حفظ او ناظره) ښودلے شي، په دې کښې 21,841 (21 زره 841) طالبِ علمان تعليم حاصلوي، او38,969 (38 زره 969) طالبِ علمانو مختلف کورسونه کړي دي، د 30 نه زياتو آن لائن کورسونو په ذريعه په 79 ملکونو کښې خلقو ته په خپل کور کښې د عِلمِ دين رڼا رسولے شي ❁ د **مدني چينل** په ذريعه په 6 سيټلائټس باندې په اُردو، انګلش او بنګالئ ژبو کښې د دين ښه خدمت کيږي.

**تاسو هم د دين د خِدمت په دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطيات دعوتِ اسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده هر يو جائز، ديني، اصلاحي، فلاحي، روحاني، د خير ښيګړې او د نيکئ په کارونو کښې خرچ کيدے شي.** الله پاک دې مونږ له د دين د خدمت توفيق راکړي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یا اللہ! مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په قبر کښې پکار راتلونکي يو څو نور عملونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! **(5)** پينځه واړه لمُونځونه د وخت د پابندئ سره په جَمعه په جُمات کښې ادا کول، **(6)** که زکوٰة فرض وي نو ادا کول **(7)** روژې نيول او **(8)** د خلقو

سره ښه سلوک کول هم د قبر نه د بچ کېدو اسباب دي. رحمتِ عالمْیان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: په هغه ذات مې دې قسم وي! د چا په قبضه کښې چې زما ځان دے! کله چې مړے په قبر کښې کېښودے شي نو هغه د بیرته تلونکو د پیزار کشار اوري، که چرې مؤمِن وي نو لمُونځ د هغه د سر طرف ته، زکوٰة ښي طرف، روژه ګَس او نورې ښیګړې، نیکئ او د خلقو سره ښه سلوک د هغه ښپو طرف ته راشي، د سر د طرف نه چې عذاب راشي نو لمُونځ وائي: دلته ستا د پاره هیڅ لاره نشته. د ښي [طرف] نه چې راشي نو زکوٰة وائي چې: زما د طرف نه به هم تا ته لار نه میلاؤیږي. د ګَس [طرف] نه چې راشي نو روژه وائي: زه به تا د دې ځائے نه ننوتو ته پرېږنه دم. بیا عذاب د ښپو د طرف نه راشي نو ښیګړې، نیکئ او د خلقو سره ښه سلوک وائي: د دې ځائے نه به هم تا ته هیڅ لاره نه میلاؤیږي.[1]

ہر عبادت سے بَرتر عبادت نَماز ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نَماز
نارِ دوزخ سے بے شک بچائے گی یہ رَبّ سے دلوائے گی تم کو جنّت نَماز

## صبر یو اړخ ته ولاړ وي

د حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې د انسان په قبر کښې عذاب راځي بیا چې کله هغه د سر د طرف نه راځي نو د قرآن تلاوت هغه لرې زغلوي. کله چې د لاسونو د طرف نه راځي نو صدقه ئې اودروي او کله چې د ښپو د طرف نه راځي نو د هغه د جُمات طرف ته تلل عذاب زغلوي او صبر په یوه غاړه باندې موجود وي او وائي:

[1]... معجمِ اوسط، جلد:2 ، صفحہ:92 ، حدیث:2630۔

که چرې زه د چرته نه د عذاب مخکښې راتللو ځائے وینم نو مخې ته به ورځم.[1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا ټول 9 کارونه دي: (1) عقیده صحیح ساتل (2) د قبر سوالونه بیا بیا وئیل (3) ډیر تلاوت کول (4) د الله پاک په لاره کښې خرچ کول (5) د لمونځونو پابندي کول (6) زکوٰة ادا کول (7) روژې نیول (8) د خلقو سره نیک سلوک کول او (9) صبر کول. د دې نه علاوه هم ډیر زیات نیک اعمال دي، کوم چې د قبر د عذاب نه بچ کوي او د قبر د رڼا سبب جوړیږي. مونږ له د قبر تیاري کول دي، د نن او هم د اوس نه شروع کول دي، ځکه چې مونږه کم نه کم بیان کړے شوي 8 نیک کارونه خپل کړو او دا 4 ګناهونه پریږدو، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! دُنیا به مو هم ښه شي، قبر به مو هم روښانه شي او که چرې الله پاک اوغوښتل نو د قیامت په امتحان کښې به مو کامیابي هم نصیب شي. الله پاک دې زمونږه د قبر او د آخرت د تیارئ توفیق نصیب کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

## 4 کارونه پریږدئ!

فَقِیه اَبُو اللَّیث سمرقندي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: څوک چې د قبر د تنهائي او د ویرې نه بچ کیدل غواړي، هغه له پکار دي چې د 4 کارونو نه ځان بچ کړي. څوک چې داسې کوي هغه به د (الله پاک په فضل و کرم سره د) قبر د تنهائي او ویرې نه بچ شي. **هغه 4 کارونه دا دي**: (1) د دروغو (2) خیانت (3)چغلئ (4)د متیازو د دارو نه بچ کیدل.[2]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا **څلور** ګناهونه دي، مونږه د قبر نه خلاصے غواړو، د قبر د رڼا طلبګار یو نو مونږ ته به دا څلور ګناهونه هم پریښودل وي:

---

[1]... معجمِ اوسط، جلد:6 ، صفحه:470 ، حدیث:9438۔

[2]... تنبیه الغافلین، صفحه:19۔

## په قبر کښې د سلامتيا د پاره د دروغو نه بچ اوسئ!

وړومبئ ګناه: **دروغ**. صادِق و امين نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دروغ ګناه طرف ته بوځي او ګناه دوزخ ته د تللو سبب دے. بيشکه بنده دروغ وائي، تر دې پورې چې د الله پاک په نزد کذّاب (ډير غټ دروغژن) اوليکلے شي.[1]

د دروغو تعريف، د دې د مثالونو او عذابونو نه د ځان خبرولو د پاره د شيخ طريقت، امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله **جهوٹاچور** اولولئ.

## په قبر کښې د سلامتيا د پاره د خيانت نه بچ اوسئ!

په قبر کښې نقصان رسولو والا **دويمه ګناه: خيانت** ده. يعنې د چا په کيښودے شوي امانت کښې ناجائزه بدلون کول يا امانت بيرته نه ورکول. حضرت **مجاهد** رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: **دهوکه او خيانت په اور کښې دي، دهوکه ورکول او خيانت کول د مسلمانانو اخلاق نه دي.**

جو دُکانیں خِیانت سے چمکائیں گے!
قہرِ قہّار سے کیا بچا پائیں گے؟
کیا اُنہیں زر کے اَنبار کام آئیں گے؟
جی نہیں، نارِ دوزخ میں لے جائیں گے
مالِ دنیا ہے دونوں جہاں میں وبال
آئے گا قبر میں ساتھ ہرگز نہ مال[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په قبر کښې د سلامتيا د پاره د چغلۍ نه بچ اوسئ!

د قبر د عذاب سبب جوړيدونکې **دريمه ګناه چغلي** ده. د فساد جوړولو د پاره د يو ګس

---

[1]... بخاری، کتاب الادب، صفحہ:1515، حديث:6094۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:655۔

خبره بَل ته رَسَوَلو ته چغلي وئيلے شي.[1]

د الله پاک آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چغلي کوونکي به الله پاک (د قيامت په ورځ) د سپو په شکل کښې راپاڅوي.[2]

| | |
|---|---|
| مجھے غیبت و چغلی و بدگمانی | کی آفات سے تُو بچا یا الٰہی! |

## په قبر کښې د سلامتيا د پاره پاک اوسئ

په قبر کښې نقصان رسوونکے شلورم بد عمل: **د ميتيازو د دارو نه نۀ بچ کيدل دي.** د الله پاک خوږ رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **اکثر د قبر عذاب د وړو بَولو [متيازو] (د دارو نه د نۀ بچ کيدو) په وجه باندې وي.**[3]

الله پاک دې مونږ ته د نيکو کولو، د ګناهونو نه د بچ کيدلو، د خپلو عقيدو هر وخت پخو ساتلو، د بدو عقيدو او بدو اعمالو نه د لرې اوسيدو توفيق را نصيب کړي.کاش! د نن د دې بابرکته شپې په برکت د قبر د عذاب نه خلاصے ميلاؤ شي زمونږ د پاره د بخښنې پيغام جاري شي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

| | |
|---|---|
| خطاؤں کو میری مٹا یا الٰہی! | مجھے نیک خصلت بنا یا الٰہی! |
| تجھے واسطہ سارے نبیوں کا مولیٰ | مری بخش دے ہر خطا یا الٰہی! |

[1]... شرح مسلم للنووی، جلد:1، صفحہ:12۔
[2]... الجامع فی الحدیث، باب العزلۃ، صفحہ:534، حدیث:428۔
[3]... ابن ماجۃ، کتاب الطہارۃ، باب التشدیدفی البول، صفحہ:69، حدیث:348۔

## د رمضان د روژو فضائل

اے عاشقانِ رَسُول!اَلْحَمْدُ لِلّٰه! بیا رمضان راتلونکے دے، د نیکو د سپرلي موسم را روان دے. راځئ! د ترغیب د پاره د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د روژو او اعتکاف یو څو فضائل واورو: د مختلفو روایاتو مطابق ❁ د روژه نیوونکي اوده کیدل عبادت دے ❁ د روژه نیوونکي دُعا او عمل قبول وي ❁ د روژه نیوونکي د پاره فرښتې د لمَر پریوتو پورې دُعا کوي ❁ د روژه نیوونکي د پاره د آسمان دروازې برسیره کولے شي ❁ په روژه نیوونکي باندې به الله پاک جنتي میوے خوري ❁ په روژه نیوونکي به الله پاک جنتي شراب څښي ❁ د روژه نیوونکي د پاره به د قیامت په ورځ د سرو زرو دسترخوان غوړولے شي ❁ د روژه نیوونکي روژه به د تیرو ګناهونو کفاره جوړه شي ❁ د روژه نیوونکي مخ به الله پاک د دوزخ نه د 70 کالو په مزل لرې کړي.[1]

کوم نادانه چې د څه شرعي مجبورئ نه بغیر د رمضان روژې پرېږدي هغه ډیر سخت ګنهګار او د اور د عذاب حقدار دے. د روایاتو مطابق څوک چې د شرعي مجبورئ نه بغیر د رَمَضَانُ الْمُبَارَک یوه روژه ضائع کړي نو اوس که ټول عمر روژې اونیسي، نو بیا هم د هغه پریښودے شوې یوے روژې فضیلت نشي موندے.[2]

الله پاک دې د خپل خوږ حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسیله مونږه د خپل قهر او غضب نه بچ کړي، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د میاشتې د ټولو روژو د زړه د خوشحالئ نه، په ذوق و شوق سره د نیولو توفیق را نصیب کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

---

[1]... فیضان رمضان ، صفحه:84تا86 ماخوذاً۔
[2]... فیضان رمضان ، صفحه:88 تا89 ماخوذاً ۔

## د اعتکاف يو څو فضيلتونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې په ټوله دُنيا کښې په زرګونو مقاماتو باندې اجتماعي اعتکاف کولے شي، **اعتکاف** د ګناهونو نه د بچ کيدو او د رمضان مياشت په نيکو کښې د تيرولو بهترينه ذريعه ده، د اوس نه د روژې په ټوله مياشت کښې يا کم نه کم په آخرئ عشره کښې په اجتماعي اعتکاف کښې د شرکت کولو نِيَّت اوکړئ! ❁ د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک چې د الله پاک د رضا او خوشحالي حاصلولو د پاره د يوې ورځې اعتکاف اوکړي الله پاک به د هغه او د دوزخ په مينځ کښې 3 خندقونه آړ جوړ کړي، د هر خندق مزل د مشرق او مغرب د فاصلے نه هم زيات دے.[1] ❁ د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرت عائشه صديقه طيبه، طاهره رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دے: مَنْ اِعْتَكَفَ اِيْمَاناً وَ اِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ يعنې چا چې د ايمان سره او د ثواب حاصلولو په نيت اعتکاف اوکړو د هغه تير ګناهونه به اوبخښلے شي.[2] ❁ په يو حديثِ پاک کښې ئې اوفرمائيل: چا چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې 10 ورځې اعتکاف اوکړو هغه داسې دے لکه چې 2

حجونه او 2 عمرې اوکړي.[3]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]... شُعَبُ الْاِيْمَان، باب:فی الاعتکاف، جلد:3، صفحہ:425، حديث:3965۔
[2]... جَامِعِ صغِير، صفحہ:516، حديث:8480۔
[3]... جَامِعِ صغِير، صفحہ:516، حديث:8479۔

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: نيک اَعمَال

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نيک جوړيدو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او په نيکو باندې د استقامت موندلو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره خپل تَعَلُّق جوړ کړئ او په 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره حِصَّه واخلئ! د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دين او دُنيا بے شميره خيرونه در نصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **نيک اَعمَال** هم دے.

شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه خپلو مريدانو، طالبانو او مينه والو بلکه د ټولې دُنيا عاشقانِ رسول د اصلاح د پاره يوه بهترينه نُسخه عطا کړې ده د کومې نوم چې رساله: **نيک اَعمَال** دے. دا وړه شان رساله د مکتبة المَدينه نه هَديةً واخلئ او که چرې غواړئ نو د دعوتِ اسلامي د ويب سائټ **(www.dawateislami.net)** نه ئې ډاؤن لوډ کړئ بلکه که نوره آساني غواړئ نو په خپل موبائل کښې دا ***Naik Amal*** ايپلي کيشن ډاؤنډ لوډ کړئ، د دې مطابق هره ورځ د خپلو اعمالو جائزه اخلئ. اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيکو کولو ذهن به مو جوړ شي، د زړه پاك والے به نصيب شي او کردار به مو صفا ستهرا، ځلنده، ښکلے ښائسته جوړ شي.

## ټوله کورنۍ لمُونځ ګزاره شوه

د ضلع اټک (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور بيان دے، ما د ګناهونو نه ډک ژوند تيرولو، فلمونه کتل، لوفري کول، لمُونځونه قضا کول وغيره زما په معمولاتو کښې شامل وو، يو ځل زمونږه علاقے ته د عاشقانِ رسول مدني قافله راغله، په هغوئي کښې يو

اسلامي ورور ماته د ماښام د لمُونځ کولو او بيان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش قسمتي وه چې زه د هغوئي سره جُمات ته لاړم، د ماښام د لمَانځه نه پس بيان ما له ډيره مزه راکړه، د بيان په آخره کښې مبلغ د **نيک اعمال** رسالے تعارُف پيش کړو، په رساله **نيک اعمال** کښې درج د نيکو نه ډک ژوند تيرولو مدني ګل ليدلو سره ماته ډيره خوشحالي نصيب شوه، د دې رسالے په شکل کښې شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اُمَّت د اصلاح د پاره د محنت ليدو سره ما لاس په لاس د بيعت کولو د پاره نوم ورکړو او عطّاري جوړ شوم، د وخت د ولئ کامل سره نسبت څه جوړ شو چې د ګناهونو نه بيزاره شوم او نيکو طرف ته مائل شوم، ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول مې د زړه نه خپل کړو، د دې په برکت سره هم ښه اثر اوشو،اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په مزه مزه ټوله کورنئ قادري، رضوي، عطّاري جوړه شوه، په کور کښې د لمُونځو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامے او سندرے باجے بندې شوے او د ګناهونو نه د ډک چينل په ځائے مدني چينل اولګيدو.[1]

| | |
|---|---|
| خوب مَدنی قافِلوں کی دھوم ہو | نیک ہو اُمَّت اے نانائے حسین |
| "مَدنی اِنعامات" کی ہو ریل پیل | نیک ہو اُمَّت اے نانائے حسین[2] |

**نوټ**: د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې **مدني انعامات** ته اوس **نيک اَعمَال** وئيلے شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... دلوں کا چین، صفحہ:4۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:258۔

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! نن شپه د عبرت او نصيحت د پاره مقبرې ته تلل د مسلمانانو طريقه ده،

راځئ! د بيان په آخره کښې مقبرې ته د حاضرئ مدني ګلونه اورو:

## د هديرې د حاضرئ مدني ګلونه

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين: (1) د قبرونو زيارت کوئ ځکه چې دا په دُنيا کښې د بے رغبتئ سبب او د آخرت رايادوي.[1] (2) څوک چې د خپل مور و پلار دوارو او يا د يو د قبر هرې جُمعے په ورځ زيارت اوکړي، د هغه بخښنه به اوشي او نيکو کار به اوليکلے شي.[2]

اے عاشقانِ رَسُول! ✿ د مسلمانانو د قبرونو زيارت کول سُنّت او د اوليائے کرامو او شهدائے عظامو په مزارونو باندې حاضري په سعادت د پاسه سعادت دے او هغوئي ته ايصالِ ثواب مندوب (يعني خوښ) او ثواب دے ✿ د مزار شريف يا د قبر د زيارت د پاره چې ځئ نو په لاره کښې فضول خبرې مه کوئ ✿ قَبر ته د تعظيم سجده کول حرام دي او که چرې د عبادت په نيت وي نو کُفر دے ✿ مقبرې ته په هغه عامه لاره ځئ، کومه چې په تير وخت کښې چرته هم د مسلمانانو قبرونه نه وو، کومه لاره چې نوې جوړه وه په هغې مه ځئ. په فتاوىٰ شامي کښې دي: (په مقبره کښې چې د قبر ورانولو سره) کومه نوې لاره جوړه کړے شوه په هغې تلل حرام دي ✿ بلکه د نوې لارې که صرف ګمان (يعني شک) وي نو بيا هم په هغې تلل ناجائزه او ګناه ده ✿ د ډيرو اوليائے

---

[1]... ابن ماجه، کتاب الجنائز، باب ماجاء فی زيارة القبور، صفحه:252، حديث:1571۔

[2]... شُعَبُ الايمان، جلد:6، صفحه:201، حديث:7901۔

کرامو په مزارونو لیدلے شوي دي چې د زیارت کوونکو د آسانۍ د پاره د قبرونو ورانولو سره فرش جوړولے شي، په داسې فرش سملاستل، تلل، اودریدل، تلاوت کول او د ذِکر و اَذکار د پاره کښیناستل وغیره حرام دي، چرته چې داسې حالات وي هلته د لرې نه فاتحه اولولئ ❁ د قبر د پاسه **اګر باتۍ** مه لګوئ په دې کښې بے ادبي او بد فالي ده، آؤ که چرې (حاضرو خلقو ته) د خوشبو (رسولو) د پاره ئې (لګول غواړئ نو) د قبر سره خوا کښې که خالي ځائے وي نو هلته ئې اولګوئ چې خوشبو رَسَوَل خوښ عمل دے، د قبرونو د زیارت د پاره دا **4** ورځې بهترې دي، د ګل، زیارت، جُمعے، خالي. د جمعې په ورځ د سحر د لَمانځه نه پس د قبرونو زیارت افضل کار دے.[1]

د مختلفو سنتونو زده کولو د پاره د مکتبةُ المَدینه **بهارِ شریعت** جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه د 91 صفحو کتاب **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اولولئ ئې! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم ده.

اُلفتِ مصطفےٰ اور خوفِ خُدا
چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
عِلم حاصِل کرو! جَہل زائِل کرو!
پاؤگے راحتیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق را کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

---

[1]... 550 سنتیں اور آداب، صفحہ: 87 تا 90 ملتقطاً۔